

د ارزونې پر مهال

# پناه غوښتنې ته لاسرسی

**که چېرې تاسې تر 18 کلنۍ کم عمر لرئ او يوازې ياست، نو سمدستي د پوليسو افسر ته ووایاست.**

هغوی به تاسې ته یو کس وګوماري چې هغه ته **سرپرست** ویل کېږي تر څو ستاسې ملاتړ وکړي.

- که چېرې تاسې بېرته خپل هېواد ته په دې خاطر نه شئ تلای چې په کې خوندي نه یاست، **نو کولای شئ دلته د پناه غوښتنه وکړئ.**
- که چېرې تاسې پرته له پاسپورت یا ویزې څخه راغلي یاست، نو باید **د ارزونې 4 پړاوونه** تېر کړئ.


## هويتي او امنيتي کتنې

- د پولیسو یو افسر یا سرحدي ساتونکی به ستاسې د **نوم، عمر، اصلیت او د سفر د جزئیاتو** په اړه پوښتنې.
- دوی به له 6 کلنې پورته د ټولو کسانو **انځور او د ګوتو نښې** واخلي.
- **ستاسې تلاشي به وشي** او ستاسې اړوند توکي به له کتلو وروسته بېرته درکړل شي.
- **افسرانو ته خپل ټول اسناد وړښکاره کړئ،** لکه تذکره یا د زېږون سند، ان که چېرې د هغو انځور مو په موبایل کې وي.

## د روغتيا او د څورمنتيا کتنې

- **یو ډاکتر یا نرس به تاسې** د ناروغیو او نورو روغتیایي ستونزو لپاره **وګوري**.
- که چېرې **طبي رپوټونه** یا واکسینونه لرئ نو هغه هم **وړښکاره کړئ**.
- **روزل شوي کارکوونکي به له تاسې سره مرسته وکړي.** که چېرې د اندېښنې، خپګان یا ډار احساس لرئ یا د خپلې کورنۍ د غړو په لټه کې یاست، نو هغوی ته ووایاست.
- **کوم شیان چې تاسې هغوی ته ور ښکاره کوئ هغه به محرم دوی سره پاتې وي** او ستاسې د هېواد له چارواکو سره به شریک نه شي.

دا کتنې کېدای شي تر **7 ورځو** پورې وخت ونیسي.
د همدې وخت پر مهال، تاسې به هغه ځای کې پاتې یاست چېرې چې ستاسې تلاشي تر سره کېږي.



## په ياد ولرئ

- که تاسې د پناه غوښتنه کړې وي، نو اړوند چارواکي باید د امکان تر بریده هر څه ژر ستاسې نوملیکنه وکړي.
- د مشورې تر لاسه کولو لپاره د یوه وکیل او که چېرې تاسې د هغه هېواد پر ژبه نه پوهېږئ نو د یوه ژباړن غوښتنه وکړئ. هغوی به تاسې سره په دې برخه کې وړیا مرسته وکړي.
- هر څوک چې دلته کار کوي باید له تاسې سره په درناوي چلند وکړي.
- له افسرانو سره همکاري وکړئ او که د دوی خبرې ناسمې یا مبهمې وي، له هغوی وغواړئ چې وضاحت ورکړي.
- که غواړئ بېرته ستانه شئ، له افسرانو څخه مرسته وغواړئ ترڅو د خپلو غوراویو په اړه معلومات ترلاسه کړئ.

Pashto

euaa
EUROPEAN UNION AGENCY FOR ASYLUM

© پناه غوښتنې لپاره د اروپايي اتحاديې اداره، 2025